# په افغانستان کښې د جنګیالی بریدونو د پاڅوب اصل قربانیان ملکی وګړی دی

## د ملکی وګړو بی شماره مرګ ژوبله په جنګی جرایمو کښې د طالبانو او حزب اسلامی دګډون ښکارندوی دي.

د ورئ ۲۷مه. کابل: د هیومن رایتس واچ له خوا نن خپور شوي راپور وایی چی جنګیالیانو د جګړی قوانیونو نه سر غړونې له عمله په تیرو پنځلسو میاشتو کښې خورا دیر ملکی وګړی وژلی.

دا د ۱۱۶پانو راپور"د انسان ارزښت: په افغانستان کښې د جنګیالی بریدونو پایلې" څرګندوی چی د کال ۱۳۸۵او د ۱۳۸۶ په سر کښې جنګیالیانو، په خاصه توګه د طالبانو او د حزب اسلامی ډلی، خپل بمی او نوردول بریدونه دیر کړی دی. دا راپور د بریدونو ملکی قربانیانو او د قربانیانو د کورنیو سره مرکو، او د بریدونو د مهال راپورنو او اسنادو په بنسټ جوړ شوی دي.

هیومن رایتس واچ کښې د ترهګري او د ترهګري ضد بخش مشره جوانَ مرینر وایی: "د کال ۱۳۸۵نه را په دی خوا د طالبانو او نورو داسی جنګیالی ډلو ځانمرګی او نور دول بریدونه خورا دیرشوي، او له عمله یی شاوخوا ۷۰۰ملکی وګړي وژل شوی دی. دوی لپاره ددی چی ملکی وګړی په نیغه نښانه کوی، په جنګی جرایمو ککړ دی. کله چی دوی پر پوځی نښو هم بریدونه کوی نو ملکی وګړی په کښې مړه او ژوبل کیږی. د دوی بریدونه مدام بی توپیره توغول کیږي"

دا راپور څرګندوی چی د جګړی د قوانینو نه په سرغړونی کښې، جنګیالیانو پر ملکی وګړو مدام نیغ بریدونه توغولی دی. ددوی بریدونو بی توپیره توغول کیږي او که چیری دوی پربهرنی او افغان پوځی نښو هم بریدونه کوی نو ملکی وګړو ته د زیان نه رسولو لپاره پکار احتیاط نه کوي. (هیومن رایتس واچ پخوا د ګن شمیر راپورونو په ترڅ کښې ددولتی پوځونو او نړیوال ځواکونوله خوا بی توپیره، او دجګړی د قوانینو نه په سر غړونی کښې توغول شوی بریدونو باندی نیوکی کړی.
;http://hrw.org/english/docs/2007/03/06/afghan15446.htm
( http://hrw.org/english/docs/2006/10/30/afghan14475.htm

ملکي وګړو له پاره کال ۱۳۸۵ په افغانستان کی د ۱۳۸۱ نه را په دی خوا تر ټولو کلونو خونړي کال وه. په سرجمع توګه لږ تر لږه ۶۶۹ عام افغانان تیر کال د لږ تر لږه ۳۵۰ وسله واله بریدونو له عمله وژل شوی. دیر شمیر بریدونه نیغ پر ملکي وګړو او ملکي تاسیساتو باندی توغول شوی ول. د ۱۳۸۵ وروستی میاشت نه را په دی خوا جنګیالی بریدونو ۵۲ نور ملکي وګړی وژلی دي.

د مرستندویه ادارو کارکونکی، خبریالان، داکتران، روحانی او دینی مشران، او د دولت ملکی مامورینو باندی د طالبانو بریدونو پاڅوب موندلی. دا وګړی د طالبانو له خوا په څرګنده توګه په نښه کیږی او د جاسوسی تور پری لګول کیږی. تیر کال لږ تر لږه ۱۷۷ ملکی وګړی د قتلونو او مورچلو څخه بریدونو په ترڅ کښی ووژل شول او دا بریدونه سږ کال هم دوام مومی. د طالبانو په لاس، د جګړی د قوانینو نه په سرغړونه کښې، د افغان خبریال اجمل نقشبندی او د ده موتروان سید آغا وژنه ددغو بریدنو یو زشت مثال دی.

مرینر وایی :"د طالبانو په لاس د اجمل نقشبندی او سید آغا قتلونه جنګی جرمونه دي. "

په دی راپور کښی د جنګیالیانو په بریدونو کښی زیانمن شوی ملکی وګړو او د هغو د کورنیو له خولی، د جنګیالی بریدونو پایلو په هکله، ګڼ شمیر کیسی شته. د مثال په توګه، نهه کلنه شهرزاد (اصل نوم یی دا نه دی) چی د تیر کال د وریځ په میاشت کښی د کابل یوه ځانمرګی برید کی سخت ټپی شوی وه او د بم چرو نس یی ور چیری او کلمی یی تری تویی کړی وی، داسی وایی: "کله نا کله هغه ورځ می په خوب کښی راځی او خپسکی وینم. ما ویل چی زه به ژوندی نه پاتی کیږم ، د شهادت کلمه می هم تیره کړی وه، ما ویل چی زه مړه کیږم."

دا راپور روښانوی چی جنګیالیانو د ملکی وګړو ګڼه ګونه ځایونو کښی پر پوځی هدفونو بریدونه کړی او د سرتیرو سره یی ګڼ شمیر ملکی وګړی د توپیره پرته وژلی دي. داسی بریدونه پوځیانو ته ځیان ،او پوځی لاسته راوړنو په تناسب ، دیر ملکی وګړی زیانمن کوي. دیرعام افغانان له هیومن رایتس واچ سره مرکو کښی حیرانتیا ښودلی چی جنګیالیان ولی د ملکی وګړو ګڼه ګونه ځایونو کښی بریدونه کوي.

د عدلیه وزارت ته نژدی د چنګاښ په میاشت کښی یو بمی برید کښی سوځیدلي یو سړی هیومن رایتس واچ ته و ویل چی: " هغی ورځ خو ما هیڅ ایساف او ناټو ځواکونه په شاوخوا کښی د سره نه وه لیدلی. هری خوا ته زمونږ خپل خلک ول، زمونږ خپل افغانان. نو د دوی هدف څوک وه؟ دغه بی وزله خلک؟"

دا راپورسند دی چی جنګیالی بریدونو د جنوب او جنوب ختیځ بر سیره د افغانستان نورو سیمو کښی هم ژوندانه ته خندونه جوړ کړی دي. په ۱۳۸۵ کښی د درستو بریدنو دريې څخه یوه برخه د کابل، هرات، مزار او داسی نوربښارونو کښی تر سره شوی ، او ملکی وګړو ته یی دیره مرګ ژوبله اړولی.

د ۱۳۸۴ کال په پرتله ،تیر کال د بمی بریدونو شمیر پاځوب وموند. هیومن رایتس واچ ۲۰۰ بمی بریدونه شمیرلی چی له کبله یی لږ تر لږه ۵۰۰ ملکی وګړی وژل شوی دی. د دغه بریدونو څخه ګڼ شمیر د نړیوال بشردوستانه قوانینو نه په سر غړونی کښی تر سره شوی ول. جنګیالیانو په قصدی توګه داسی ملکی تاسیسات لکه ښوونځی، سرویسونه، او بازارونو باندی بریدونه وکړل چی د هیڅ پوځی هدف لپاره تری کار نه آخستل کیده. دوی داسی بریدونه تر سره کړی چی د مبارزو سرتیرو او ملکی وګړو توپیر پکښی د سره نه دی شوی. او د بریدونو په ترڅ کی یی ملکی وګړو ته د خپل پوځی هدف په پرتله دیر زیان رسولی. او داسی نور بریدونو چی د ملکی وګړو ویرولو لپاره تر سره شوی وی هم د دوی لخوا تیر کال و توغول شول. د جګړی د قوانینو له نظره دا بریدنه درست نا روا دي.

ځانمرګی بریدونه ملکی وګړو لپاره په سخته توګه مهلکه او زیان رسوونکی ده. ۱۳۸۵ په بهیر کی د جنګیالیانو له خوا لږترلږه ۱۳۶ ځانمرګی بریدونه تر سره شول—چی د وړم کال په پرتله پکښی شپږ ځله زیاتوالی راغلی. ددغه بریدونو څخه ۱۱۲ پر نظامی نښانو ول ، خو بیا هم ددغو بریدونو تاوان ملکی وګړو ته خورا دیر وه. ۲۰ نور ځانمرګی بریدونه نیغ په ملکی وګړو توغول شوی ول. ځانمرګی بریدونو لږ تر لږه ۲۷۲ ملکی وګړی او ۳۷ دولتی او نړیوال پوځیان یی وژلی دي. ځانمرګی بریدونو کښی د هر وژل شوی سرتیری په پرتله اته برابره دیر عام وګړی قربانی شوي.

د حقوقی موقف له نظره ځانمرګی بریدونه نا روا نه دی، خو کوم ځانمرګی بریدونه چی په افغانستان کښی تر سره شوی په ځرګنده توګه د جګړی د قوانینو نه په سرغړونی کښی شوی. ځانمرګی بریدکوونکي د غداری نه کار آخلی او د ملکی وګړو د موقف نه استفادي سره ځان خپل هدف ته نژدی کوی. دا عمل عام وګړو ته لا نور هم خطر پیښوی او دیر ځل داسی پیښه شوی چی دولتی او نړیوالو سرتیرو پرملکی وګړو د ځانمرګی بریدکونکی ګوابښ ګړی او پری دزی یی کړی. دیر ځل ځانمرګی بریدونه پر ملکی وګړو توغول کیږی او یا بریدکوونکی د ملکی وګړو ځان او مال ته زیان نه رسولو لپاره ضروری احتیاط نه کوی. دوی د خپل هدف نښه کولو کښی دیر ځل نا چاری پاتی او بم یی د ملکی وګړو ګڼه ګونه سیمو کښی الوزولي چی ملکی وګړو ته یی توپیره او بی تناسبه زیانونه رسولی.

په ۱۳۸۵ کال کښې پر ښوونځيو، ښوونکو او زده کوونکو باندې د جنګیالیانو بریدونو هم پاځوب وموند.(هیومن رایټس واچ د ۱۳۸۵ کال د چنګاښ په راپور، په ویره کښی درسونه ، کښی پر نجونو، ښوونځیو او ښوونکو باندې دولت ضد ډلو د اوراچونی او داسی نور بریدونو په هکله معلومات را غونډ او خپور کړي چي په لاندی بریښنایی نښه کښی پروت

دي.http://hrw.org/campaigns/afghanistan/2006/education)د دولت ضد جنګياليانوښوونځيو باندي بريدونه يا د دنياوي علم سره د مخالفت په بنا او يا هم د نجونو د مکتب ته تلو پر ضد کړي دی. او يا هم پردی اساس چي ښوونځيی او ښوونکی د دولت او بهرنيانود چارو علامی دی.

هيومن رايټس واچ وايي چي د دولتي او نړيوال ځواکونو د عملياتونو په ترڅ کښې هم ملکی وګړو ته مرګ ژوبله رسيدلی ده. تير کال لږ تر لږه دو سوه او ديرش ۲۳۰ ملکی وګړي د ناټو او ايتلاف ځواکونو هغو عملياتو په ترڅ کښې ووژل شول چي ښايي د جګړې د قوانينو په سر غړونه کښې تر سره شوی ول. که څه هم داسی شواهد نشته چي څرګنده کړي چي ناټو او ايتلافي ځواکونو پر عامو وګړو قصدی او نيغ بريدونه کوی ،خو څو واری داسی پيښه شوی چي دغو ځواکونو بی توپيره بريدونه کړي او يا يې عام وګړو ته د زيان نه رسولو لپاره وړه احتياط نه دی کړی. هيومن رايټس واچ پر دغو کړنو راپورونه خپور کړی او اوس هم د ناټو او د ايتلاف ځواکونو فعاليتونه ته ځير دي.

هيومن رايتس واچ وايي چي په افغانستان کښې د بی امنۍ او وسله والی شخړې دوام د کورونيولا نور بی ځايه کيدلو علت شوی او د پرمختيايي او دولتی مرستو په لاره کی يې ګن شمير خندونه جوړ کړي دی . دير شمير افغانان په جنوبی او جنوب ختيځ ولاياتو کښې بی ځايه شوی او خپل کلو ته ستنيدلو لپاره، د نا امنی له کبله، زړه نه ښه کوی.تير کال په جنوبی ولسواليو کښې د وران امنيت او تاوتريخوالی له عمله له سل زرو نه دير ملکی وګړي بی ځايه شوي. په دغه سيمو کښې د وران امنيت له کبله د دغو سيمو اوسيدونکي چي ايران او پاکستان ته کدوال شوی ول، يا هيواد ته نه را ستنيږی او بيا که را ستون هم شی نو کابل او يا نورو ښارونو کښې کډی آړيي.

مرينر وايي:"د دير شمير افغانانو ژوند خوار او د شخړو نه دک دی، او دا د جنګياليانو بريدونه، په خاصه توګه پر مرستندويه ادارو او دولتی مامورينو باندی بريدونه، د دوی ژوند لا نور هم تريخ کړی دی. "

هيومن رايتس واچ طالبانو ، حزب اسلامی او نورو جنګيالی دلو ته سپارښتنه کړی چی پر ملکی وګړو او ملکی تاسيساتو قصدی او نيغ بريدونو نه لاس واخلی. دوی نشی کړای چی داسی بريدونه تر سره کړی چی په ترڅ کښې يې د ملکی او نظامی وګړو توپير ونه کړی او يا مخکی له مخکی ښکاره وی چی ملکی وګړوته رسيدونکي زيانونه به د پوځی لاسته راوړنو په تناسب دير زيات وی؛ او دوی نه بايد چی داسی بريدونه او پټکی وکړی چی خاص هدف يې د عامو وګړو په مينځ کښې ويره خپورول وی. قانون دا هم منع کړی چي د پوځی نښو باندی بريدونو په مهال له غداريٍ څخه کار واخلی، لکه د ملکی وګړو په جامو کښې پټ او پوځی بريدونه تر سره کړي.

د بشري حقونو څارنی مرکز یا هیومن رایتس واچ د پاکستان دولت ته سپارښتنه کړې چې داسې اغیزناک عملیاتونه وکړي څه له عمله یې په پولی پراته هغه جنګیالی ډلی چې د پاکستان خاوری نه د جګړې د قانون ماتونکې بریدونو لپاره تیاراو سمبالیږی، شل شي.

او په پای کښې یې د افغان دولت او نړیوال ځواکونو نه غوښتې ده چې: د جنګیالي بریدکونکو په اړه خپل چلند اود ښتو قواعد و ازمویې. د ګزمو، کاروانونو او اډی جوړولو په اړه خپل سیاست او پلانونه بیا و څیړې تر څو ملکي وګړو ته تاوان رسولو امکان لږکړي. باید پوره احتیاط وکړی چې خپلی پوستې او اډی د ملکی سیمو نه په لری سیمو کښې ځای په ځای کړي. څومره څه ممکنه وی باید چې کاروانونه د ملکی سیمو نه تیر نه شی. او لپاره ددی چې په غلطې کښې ملکی وګړو باندی دزی و نه کړی، او هم ملکی وګړو ته په وخت خبرتیاوی ور کړی، باید چې د بریدکونکو پیژندنه کی د چټکتیا او احتیاط نه کار واخلي
.

دا راپور، چې کله خپور شی، نو په لاندی بریښنایی ښنبه کښې به پروت وی:

http://www.hrw.org/reports/2007/afghanistan0407/

د نور معلومات لپاره کولای شی چې د هیومن رایټس واچ لاندی نومول شوی کارکونکو سره په تماس شي
:

په کابل کې: جوین مرینر (انګریزی او هسپانوی)
د تیلفون شمیرې: ۹۳۷۰۴۷۴۲۸۲+ او ۱۹۱۷۶۴۷۴۵۸۸+

په نیویارک کې: جان سفتن (انګریزی)
د تیلفون شمیرې: ۱۲۱۲۲۱۶۱۲۸۷+ او ۱۹۱۷۸۳۸۹۷۳۶+

په واشنګتن کې: سام ظریفی (دری او انګریزی)
د تیلفون شمیرې: ۱۲۰۲۶۱۲۴۳۵۴+ او ۱۶۴۶۶۶۲۷۷۵۰+